ع، شیرزوی

# ټولنه د قبیلې په سیوری کې

## (د جرګو سیستم)

وایي هر چیری چي قبیله وي، هلته جرګه هم وي او چیرته چي جرګه معمول وي، هلته ټولنه د قبیلوي مناسباتو په سیوری کي واقع وي.
د افغانانو ټولنه یوه قبیلوي ټولنه ده او تر هغه ځایه چي تاریخ یي په یاد لري، د ډیرو لرغونو وختونو څخه پردي ټولني قبیلوي سیوری را خور دي. په قبیلوي ټولنه کي د جرګي نظام حاکم وي، په دي نطام کي لوی مسایل د لویي جرګي په مټ د حل وفصل لار پیدا کوي. د جرګو فیصله دروند قدسیت لري، که یو کس د خپلي ټولي کورنی سره تباه کیږي، هغي ته غاړه ږدي او هغه قبلوي، خو د جرګي د پریکړو او فیصلوپه وړاندي بغاوت یا خیانت هیڅ کله نه قبلوي.
ځکه چي جرګه او مرکه په افغاني دودونو او عنعنو کي ډیر ارزښت، لوړ ځای او لرغونی تاریخ لري. لویی جرګي زموږ په ګران هیواد افغانستان کي اوږد تاریخ لري، خو ډیرې مهمې جرګې په اتلسمه، نولسمه اوشلمه پیړی کي شویدي.
د اتلسمې پیړۍ په پیل کي هغه محال چي هیواد د ایراني صفویانو په استعمار کي بند و، د حاجی میرویس خان په مشری دوه لویې جرګي د (کوهکران ۱۱۱۷/ ۱۷۰۵ م ) او د مانجی لویه جرګه ( ۱۱۱۹/ ۱۷۰۷ م ) په مقامونو کي جوړی شوي، چي دا حرکتونه ټول مخفی وو، تر څو کار نظم ومونډ او علنی قیام پیل شوه، د ایران حکمران « بیګلربیګی ګورګین » او د هغه نظامی او ملکي مشران قتل او کندهار خپلواک دولت اعلان شو او میرویس خان دملی مشر په توګه وټاکل شوه. د زیاتو مالوماتو له پاره وګوری:(عطایي محمد ابراهیم (اکادمیسن کاندید)، د افغانستان پر معاصر تاریخ، اول چاپ، ۱۳۸۰ هجری لمریز کال ، میوند خپرندویه ټولنه ، ص ۱۳)
دویمه لویه جرګه د احمدشاه ابدالي د ټاکني جرګه وه، چي د کندهارپه « شیر سرخ » کي جوړه شوه او په هغي کي د قومونو مشرانو برخه اخیستي وه او ځوورځي غونډي کیدي، تر څو یي احمد خان سدوزی د احمد شاه په نامه مشر کړ او هغه په خپله پوهه او درایت د احمد شاهی امپراطوری بنسټ کیښوده.
په ۱۹ پیړی کي په خاصه توګه د انګریز د یرغلونو په وړاندي افغانانو مقاومتونه کول، د بریالیتوب تومنه یي په دي کي پرته وه چي د جرګو په فیصلو به دومره واحده قوی جبهه جوړه شوه چي ډیرو لویو قدرتونو په هغوي کي د نفوذ توان نه درلود.
د ځیرنو له مخي لرغونو آریایانو هم دوه ډوله جرګي درلودلي، چي د ورپیښي کوچنی او لویي مسلي یي د همدغو جرګو له مخي حل او فصل کولي. دوي د «سیمتي» او «سبها» په نومونو دوه جرګي درلودلي چي سبها د یوې وړې کلیوالي جرګي دنده درلوده چي په کوچنیو مسایلو به یي غور او پریکړي کولي او سیمتي جرګي به لویي مسلي حل او فصل کولي. لکه د مشر ټاکل، د خپلي سیمي څخه دفاع کول او داسي نوری مسلي به یي هوارولي له لویو جرګو پرته، چي وړاندي ورته اشاره وشوه او د هیواد په سطحه پریکړي کوي، بله سیمه ییزه جرګه وي، چي هغه د خاصو مشرانو له خوا جوړیږي، چي «نرخیان» یي بولي او له دوي پرته نور کسان هم په کي ګډون کوالاي شي، خو پریکړي اکثره هغه نرخیان کوي، چي دواړو خواو ته یي پریکړي د منلو وړ وي.
ارشاد اورنګزیب، افغانستان پیژندنه ،اول چاپ ، ۱۳۸۴ ل / ۲۰۰۶ م ، دانش خپرونډویه ټولنه ، پیښور، ص ۳۳۴/ ۳۳۵.
جرګه ماران، چي کله د یوې پریکړي له پاره په حجره، مسجد او یا هم په یوه لویه سوپه کي خپل مجلس پیل کړي او وړاندي یي د دواړو خواو څخه مچلګه «نغدي یا جنسي ضمانت» اخیستي وي او د جرګي په پای کي چي هره خوا د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

جرګي پريکړه ونه مني او سرغړونه وکړي، مچلګه يې له منځه ځي او له دې پرته د ضرورت په وخت کې نور تاوانونه هم وراړوي. لکه د کور سوځول او له سيمې نه ايستل هم په کې پيښيږي.

بې جرګې نه به هيڅ کار په لاس وانخلي
کـه خـبر وي د جـرګـــې پـــه بــرکـت

ماخذونه:
اکاډميسن کانديد : مرحوم عطايي محمد ابراهيم ، د افغانستان پر معاصر تاريخ، اول چاپ ، ۱۳۸۰ هجری لمريز کال ، ميوند خپرندويه ټوله ، ص ۱۳.
ارشاد اورنګزيب ، افغانستان پيژندنه ، اول چاپ ، ۱۳۸۴ ل / ۲۰۰۶ م ، دانش خپروندويه ټولنه ، پيښور ، ص ۳۳۴/ ۳۳۵

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ